مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال او شناند نظرمحمد مطمئن ۲۰۲۲/۰۵/۰۸

# د افغانستان د ناامنۍ اغیز پر ګاونډ، سېمه او نړۍ

یادونه: دا لیکنه زما شخصي نظر دی، په هیڅ ډول په کوم سیاسي لوري او یا هم د افغان حکومت تګلاره پوري تړاو نه لري.



نظرمحمد مطمئن

د امریکا متحده آیالاتو او طالبانو د سولې تړون (۲۹ فبروري ۲۰۲۰) پر یوه مهمه ماده په رسنیو کې ډیر بحثونه کېدل او کیږي "د افغانستان خاوره به د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو د امنیت په خلاف نه کارول کیږي."
د افغانستان د اوسني اسلامي نظام مهمو او لوړ پوړو مسؤلینو ډیر ځله څرګنده کړې چې د افغانستان له خاورې څخه هیڅ هیواد ته ګواښ نه شي متوجه کیدای او نه هم چاته په خپله خاوره کې اجازه ورکوي چې د ګاونډیو، سیمې او نړۍ د هیوادو پر ضد فعالیت وکړي.
تمه وه چې واک به په سوله‌ییز ډول طالبانو ته انتقال او نړیوال به هم له افغانستان سره خپلې اړیکې عادي وساتي،
د اګست ۱۵مه ۲۰۲۱، له کابل څخه د ډاکټر غني تېښتې د واک خلا رامنځته او طالبان پر کابل او ټول هیواد واکمن شول.
د نوي اسلامي حکومت د رسمیت پېژندلو لړۍ د امریکا/اروپا/چین/ماسکو او اسلامي هیوادو له خوا وځنډول شوه، د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر په دې برخه کې ګړندي او مهم سفرونه بېلابېلو هیوادو ته وکړل، د امریکا او نړیوالو له خوا د افغانستان نوي اسلامي حکومت د رسمیت پېژندلو لپاره شرایط وړاندې کېدل، داسې ښکارېده چې امریکا د دوحې تړون ته ژمنه نه وه.
طالب مشران هم د امریکا/اروپا او نړیوالو له سوړ چلند څخه تر ډیره ناهیلي شول، د امریکا له خوا د افغانانو د ۷ میلیارډه شتمنۍ په اړه د ولسمشر بایډن ناسمې څرګندونې د افغانستان د نوي اسلامي نظام او امریکا ترمنځ بې باوري زیاته کړه.
چین او ماسکو هم د بېلابېلو لاملونو له کبله د افغانستان د نوي حکومت رسمیت پېژندنې په اړه پریکنده پریکړه ونه شوای کولای، ګاونډیو هیوادونو هم له نوی افغان حکومت څخه د خپلو ګټو په نظر کې نیولو سره غوښتنې درلودلې.
ګاونډي، د سیمې او نړۍ هیوادونه لا هم له اوسني نظام څخه تمه لري چې په واک کې به نور سیاستوال ور سره شریک کړي، سیاسي ګوندونو ته به د فعالیت اجازه ورکړي، د رسنیو او مدني ټولنو فعالیت باندې محدودیتونه به نرم کړي.
اوسمهال په چین، ماسکو، پاکستان، ایران، ازبکستان، قطر، ترکیه، قرغیزستان، قزاکستان، ترکمنستان کې سفارتونه افغان دولت ته سپارل شوي، دا ښه پرمختګ او د اعتماد جوړونې رغنده پیل دی.
له شپږم ټولګي پورته د نجونو ښوونځیو خلاصیدو کې ځنډ د افغانستان د اوسني حکومت د رسمیت پېژندنې لړۍ لا ټکنۍ کړه، دغه ډول پریکړې د نړۍ، سیمې او اسلامي هیوادونو مشران او سیاسي ګوندونه هېښ کړل.
په افغانستان کې له سیاسي بدلون وروسته ټولې نړۍ، سیمې او ګاونډیو هیوادو په یوه خوله ویل چې په افغانستان کې د تلپاتې امنیت پلوي کوي، له هیڅ افغان جنګي ډلې سره د نوي اسلامي نظام په ضد مالي او نظامي مرستې نه کوي.
په وروستیو وختو کې لېدل کیږي چې د افغانستان ځینو ګاونډیو هیوادو سره نږدې کربښو کې تحرکات پیل شوي او یا پیل کیدونکي دي، دارنګه د ځینو ګاونډیو له خوا لا هم پر افغان خاوره توغندي ویشتل کیږي، تر څو دلته نا امني او د دوی غوښتنې ومنل شي.
د اسلامي هیوادو ځوانان په خاص او د نوري نړۍ مسلمان ځوانان په عام ډول د ازادۍ او خپلواکۍ لپاره افغانان الګو ګڼي، هیلي یې ور پسې تړلې بولي، ګاونډي هیوادونه، سېمه او نړۍ دې پوهـ وي چې اوسنی افغان حکومت هم دا ظرفیت او توانایي لري چې ګاونډیو هیوادو، سیمې او نړۍ کې نرم ځواک وکاروي، مګر افغانان نه غواړي چې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دوی له خاورې نورو ته ګواښ وي، اوسنی افغان حکومت غواړي له ټولو ګاونډيو، سيمې او نړۍ له هيوادو سره ښې او رغنده اړيکې ولري.

**پاکستان**

که په افغانستان کې امن او ثبات وي، پرته له شکه چې د پاکستان پر امن او ثبات مثبت اغيز لري، که په افغانستان کې ناامني او ګډوډي وي، د پاکستان پر امنيتي او اقتصادي سکټور ناوړه اغيز به ولري.
که ځينې پاکستاني چارواکي فکر کوي چې اوس هم ۴۰ کاله پخوانی، د افغانستان اړوند د پاکستان تګلاره به کار ورکړي، ناسمه ده، اوسنی افغانستان له ۴۰ کاله مخکې افغانستان سره د پرتلې وړ نه دی، پر مجاهدينو د پاکستان د هغه وخت نفوذ هم پر طالبانو د پاکستان له نفوذ سره د پرتلې وړ نه دي، اوسنی افغان حکومت تر ډيره د هيڅ کوم هيواد تر نفوذ لاندې نه دی، که مشران يوه شي چې په غير مستقيم ډول ځينې کسان د کوم هيواد تر نفوذ لاندې دي، کيدای شي هغه له واکه هم ليرې کړي.
داچې پاکستان په کور دننه د شمالي او جنوبي وزيرستان د پښتنو له سياسي کړکيچ سره مخ دی، بلوچستان کې د پاکستان ضد مخالفين ډير او تر دې چې دا لړۍ سرتيري بريدو ته ورسيده، خيبر پښتونخوا کې لا هم ډيری اوسيدونکي يې د وخت په تمه دي که وکولای شي د تيرو ۲۰ کلونو کې هغه حقونه يې چې د مرکزي حکومت لخوا سلب او يا دوی ډير وټکول شول، بيرته د خپلو حقونو او عزت اعاده وکولای شي.
په دغسې يو حالت کې پاکستان ته پکار ده چې د افغانستان د اوسنی نظام ضد کړيو ته په خپله خاوره کې د افغان حکومت ضد فعاليتونو ته اجازه ور نه کړي، که خدای مه کړه پاکستان د اوسني نظام ضد کړۍ په خپله خاوره کې پالي او يا هم د ډيورنډ پر کرښه معامله اوس وخت کې يې فيصله غواړي؛ پايله کې به د دواړو هيوادو ترمنځ بې باوري زياته او دا ډول حالت به دواړه هيوادونه په ناوړه توګه اغيزمن کړي.

**ايران**

ايران په تيرو ۲۰ کلونو کې هم له طالبانو او هم د حامد کرزي او ډاکټر غني له حکومتونو سره د تعادل پر اساس تګلاره مخکې يوړه. په تيرو شل کلونو کې ايران هڅه کوله چې له طالبانو سره د ملګرتيا له امله له امريکا څخه ګټه تر لاسه کړي، مګر ټرمپ د ايران په اړه داسې تګلاره غوره کړه چې ياد هيواد يې په اقتصادي برخه کې ډير سخت وټکاوه.
کله چې په افغانستان کې نوی اسلامي نظام رامنځته شو، ايراني چارواکي په بې صبري او ښکاره په نظام کې د اهل تشيع او هزاره توکم د غوښتني ونډې غوښتنه کوي، دارنګه د هلمند سيند د اوبو، غوريانو کې د اوسپنې کان، بانکي سيستم او پولو ته نږدې ازادو بازارونو غوښتنې لري چې تر دې مهاله نه دي منل شوې، ولې اوسني حکومت ژمنه کړې چې په نظام کې به اهل تشيع او هزاره ورونه د اهليت پر بنسټ ځای ولري.
دا مهال په ايران کې ډيری د پخواني جمهوريت د مهال وسلوال ميشت شوي، ډيری يې هغه مشران دي چې تير ځل (۱۹۹۴ تر ۲۰۰۱) هم د طالبانو ضد جګړو پر مهال ايران ځای ورکړی وو، که ايران د تير په څير بياځل تيروتنه کوي، اوس وخت د ۲۵ کاله پخوا افغانستان سره پرتله کول يې هم تيروتنه ده.
ايران دا مهال له اقتصادي ستونزو او نړيوالو بنديزونو سره مخ هيواد دی، بل خوا په سيستان او ټولو هغو سيمو کې چې اهل تسنن اوسيږي، هغوی د افغانستان د اوسني اسلامي نظام پلويان او د ايران حکومت د مذهبي ناسمو او تعصبي تګلارو څخه په تنګ راغلي دي. که ايران په افغانستان کې ناامني ته لمن وهي، افغان حکومت هم د فشار داسې ډيری اسباب کارولی شي چې ايران ته په کور دننه ستونزې پيدا شي، مګر طالبانو ډير ځله او هر وخت ويلي چې د نورو په کورنيو چارو کې لاسوهنه نه کوي او نه هم نورو ته اجازه ورکوي.
ايران ته پکار ده چې په ټول توان له افغان حکومت سره د رغنده اړيکو جوړولو هڅې وکړي، نه داچې تر پروړي/بوسو لاندې اوبه تيرولو باندې وخت ضايع کړي.

**تاجکستان**

تير ځل (۱۹۹۶ تر ۲۰۰۱) چې طالبان پر کابل واکمن وو، تاجکستان د نظام د مخالفينو په واک کې د کولاب اډه ورکړې وه، هلته يې روغتيايي اسانتياوې ورته برابرې کړې وې، ايران او هند همدې آډې ته نظامي مرستې ورکولې.
تاجکستان چې د استاد رباني د حکومت پر مهال له شمال ټولوالي سره د معاملې په ترڅ کې له کورنۍ جګړې خلاصون ومونډ، په تيرو دوه نيمو لسيزو کې يې خلکو په امن او ثبات کې ژوند درلود، اوس مهال چې له ډيرو اقتصادي ستونزو، د خلکو بې کارۍ او په نظام کې پراخ مالي فساد له امله يې حکومت له ولسي ګواښونو سره مخ دی، بل خوا د افغانستان اوسني نظام پر ضد که مخالفينو ته بياځل په خپله خاوره کې اډې او د فعاليت اجازه ورکوي، فکر کيږي چې داځل به د تاجکستان دغه ډول کړنه بياځل د تاجکستان حکومت اسلامپالو مخالفينو ته د تبر لاستی په لاس ورکړي، پايله داچې خپله تاجکستان به د ناامني او بې ثباتي په يو غريب هيواد بدليږي ان شاء الله.

**ازبکستان**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

ازبکستان تیر مهال (۱۹۹۶ تر ۲۰۰۱) له طالبانو سره د ښو اړیکو پاللو ترڅنګ له دوستم سره هم په پټه مرستې کولې، مګر د هغه مهال افغان حکومت او ازبکستان هیواد ترمنځ بې باوري په لوړه کچه نه وه، بلکې اړیکې یې رغنده او په پراخیدو وې.
اوسمهال هم له ترکمنستان وروسته د افغانستان تر ټولو ارام او ښه ګاونډی هیواد ازبکستان دی، مګر په وروستیو وختو کې د ځینو نامسؤلو وسلوالو لاره له ترکیې په ازبکستان ده او له ازبکستان څخه د افغانستان شمال او مرکز ته دغه نامسؤل وسلوال د تګ راتګ هڅې کوي، ممکن عبدالرشید دوستم هم د نړیوالو نامسؤلو وسلوالو پروژه کې د کلیدي رول لوبولو هڅه وکړي، که ازبکستان له ترکیې څخه افغانستان ته د نامسؤلو وسلوالو مخه ونه نیسي، پرته له شکه چې په ازبکستان کې به هم د نا امني پېښې زیاتې او هغه اقتصادي پلانونه چې یاد هیواد یې لري له ځنډ او ځنډ سره به مخ شي، په وروسته وختونو کې په ازبکستان کې د ځینو ناامنیو راپورونه دا ښیي که په افغانستان کې هر هیواد د ناامني پلوي کوي، هغه هیواد به یې هم په اور کې سوځي ان شاء الله.

**هند**

په ډېر لنډ ډول ویلای شم چې د افغانستان د اوسني نظام اړوند د هند پخوانۍ اندېښني لیرې شوې او اوسنۍ تګلاره یې تر ډیره د افغانستان په ګټه ده، تر دې مهاله د هند لخوا د افغان حکومت ضد تګلاره نه ده لیدل شوې، د طالبانو ځیني سرسخت مخالفین چې د اګست تر ۱۵مې لړ مخکې او وروسته هند هیواد ته تللي وو، هغوی ته د طالبانو ضد فعالیتونو اجازه په هند کې ور نه کړل شوه، هغوی چې د طالب ضد سیاسي فعالیت فکر یې درلود له هند څخه ایران، ترکیې او تاجکستان ته ولاړل.

**چین او ماسکو**

چین او ماسکو دواړه غواړي چې د افغانستان له اوسني نظام سره ښې او رغنده اړیکې ولري، چین له پاکستان سره نږدې ملګرتیا لري، پاکستان لا هم له اوسني افغان حکومت څخه ځیني داسي غوښتني لري چې منل به یې ګران وي، ځکه خو چین هم له اوسني افغان حکومت سره په سیاسي تعامل کې له احتیاط څخه کار اخلي.
ماسکو چې په اوکراین جګړه کې ښکېل دی، لومړیتوب یې د جګړې یوطرفه کېدل او له ناټو سره اوږدمهاله مقابلې ته ځان چمتو کول دي، بیا هم ښکاري چې افغانستان یې هیر کړی نه دی.
که چین او امریکا د افغانستان د امنیت برخه کې فعال نه شي، بلخوا د امریکا او افغانستان ځینو ګاونډیو هیوادو له خوا په افغانستان کې ناامني ته لمن وهل کیږي، پرته له شکه چې ددغې ناامني جرړې به تر منځنۍ اسیا، ماسکو او د چین تر سیانګ یانګ پورې غځیږي.

**امریکا او اروپا**

امریکا او ناټو به خامخا هڅې کوي چې په افغانستان کې د خپلو ناکامیو غچ له افغان ولس څخه واخلي، مګر دا یې تیروتنه ده، که د دوحې د تړون پر بنسټ امریکا/ناټو له اوسني نظام سره تعامل وکړي، پرته له شکه چې ګټه به یې ذیدخلو لوریو ته رسیږي:
"د افغانستان خاوره به د متحده ایالتونو او د هغوی د متحدینو د امنیت په خلاف نه کارول کیږي. متحده ایالتونه او متحدین به یې د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا او سیاسي خپلواکۍ په ضد له ځواک او ګواښ څخه کار نه اخلي او نه به یې په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوي.
متحده ایالتونه به د بین الافغاني ډیالوګ او مذاکراتو له لارې تر جوړجاړې وروسته د نوي افغان اسلامي حکومت لپاره د بیارغولو اقتصادي مرستې وغواړي، او په کورنیو چارو کې به یې لاسوهنه نه کوي. "
که امریکا/اروپا د دوحې تړون ته ژمن پاتې نه شي، د افغانستان د اسلامي نظام ضد کړیو/ مخالفینو سره مرستې ته تیّر وتکوي، د افغانستان کورنیو چارو کې مداخلو ته دوام ورکړي، پرته له شکه طالبان به هم داسي د فشار الې په واک کې ولري او د دې تېکر له امله ممکن بیاځل نړۍ ناارامه او ناامنه شي، د ۲۰۲۱ اګسټ تر ۳۱مې چې امریکا او متحدینو یې په لسګونو زره افغانان امریکا/اروپا او نورو هیوادو ته وایستل، ډیری یې د طالبانو پلویانو هم شتون درلود او لا هم له اوسني افغان حکومت سره خواخوږي لري، که خدای مه کړه امریکا/اروپا له اوسني افغان حکومت سره د ملګرتیا پر ځای د ټکر پالیسي خپله کړي، پرته له شکه د ناامني او بې ثباتي اور به یې د امریکا او اروپا تر بازارونو هم رسیږي. له دې ور ها خوا طالبان د دې قوي ظرفیت لري چې امریکا/اروپا له امنیتي ننګونو سره مخ کړي، مګر اوسنی افغان حکومت نه غواړي چې نورو ته له افغان خاوري ګواښ متوجه شي.

**پایله:**

د افغانستان د اوسني نظام مسؤلینو ته تر بل هر چا ډیر مسؤلیت اوړي چې له ګاونډیو، سیمې او نړیوالو هیوادو سره د دوه اړخیزو ښو اړیکو لپاره ګرندی او ډیرې هڅې وکړي، د هیواد، سیمې او نړۍ امنیت ته جدي پاملرنه وکړي، افغانستان د ترهګرۍ له عواملو خوندي وساتي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زموږ ځينو ګاونډيو هيوادو ته په کار ده چې د اوسني افغان حکومت د مخالفينو فعاليت ته په خپلو هيوادو کې زمينه مساعده نه کړي، له هغوی سره مالي او نظامي مرستې ونه کړي، که دا کار کوي، افغان حکومت مجبوره کيږي چې په ورته عمل لاس پوري کړي چې دا کار کولای هم شي، بيا به يې تر ډيره زيان ګاونډيو هيوادونو ته رسيږي، ځکه افغان ولس په ګران هيواد کې نور جګړه نه غواړي.
کيدای شي امريکا او بريتانيا د افغانستان رسميت پيژندني مسئله وځنډوي، چين او ماسکو ته په کار ده چې نړۍ له يو قطبي حالت څخه وباسي، د افغانستان رسميت پيژندني مسئله کې پر امريکا او بريتانيا د فشار تر څنګ د افغانستان اوسنی حکومت هم په رسميت وپيژني، که دا لړۍ ځنډيږي، ممکن نورې داسې پيښې هم وشي چې بيا به دا لړۍ لا پيچلې او ستونزمنه کړي.
امريکا/ناټو/اروپا ته په کار ده چې د نوبيمو کلونو په څير افغانستان هير نه کړي چې بياځل دغه هيواد خدای مه کړه د اقتصادي ستونزو، ټولنيزو جوړښتونو او بېلابېلو لاملونو له کبله له ګڼو ستونزو سره مخ او بيا ځل سېمه او نړۍ نا امنه شي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ